**ډالۍ : هغوی ته چې خپله ژبه د مور مينه، هويت او د علومو د زده کړو وسيله يې ګڼي.**

# د فاینـانس سل پوښتنې اوځوابونه

لیکوال: پوهنیار همایون همتا

**د فاينانس سل پوښتنې اوځوابونه**

څومره چې د بشري منابعو مدیریت اړین ګڼل کیږي، په همغه کچه د پیسو مدیریت هم مهم دی، پیسې د مادي رفاه ترټولو قوي وسیله ده چې تر ډیره په ژوند کې ځان پرې خوشحالولی شو، اوس نو څومره چې ډیرې وي په هغه اندازه ښې دي، دغه هنر چې پر خپلو او یا پردیو پیسو څرنګه ګټه وکړی او لا شتمن شی دا د یو غوره مدیریت نتیجه ده چې یاد مدیریت ته فاینانس ویل کیږي. نو که مو مادي خوشحالي پیسې وي نو حتما به د فاینانس د علم سره مینه لري.

که څه هم دغه علم د ډیر پرمختګ او زیات شمیر ډولونو شاهد دی اود دنیا په هره ژبه په مختلفو موضوعاتو کې یې ډیر تفصیلي کتابونو، مقالود لیکلو ترځنګ، ملي او نړیوال بحثونه پرې شوي دي خو زمونږ ګران هیواد افغانستان کې دغه مسلک ته ډیر کم او یا په هیڅ حساب کارنه دی شوی نو مونږ اړینه ګڼه، چې د پوښتنو او ځوابونو په بڼه د دغه علم ډیر مهم موضوعات له نړیوالو کتابونو او مقالو څخه چې په انګلیسي او ترکي لیکل شوي وو، ګټه اخیستې او د لنډیز په توګه یې مینوالو لوستونکو ته وړاندې کوو، هیله ده چې دا کار د مالي چارو یا فاینانس په برخه کې مؤثر وي او لا نور کار هم دغه علم ته په پښتو ژبه کې وشي. دیادونې وړده چې اړتیا ته په کتو سره مې ځینې انګلیسي کلمات کټ مټ په پښتو لیکلي دي.

پوښتنه: فاینانس څه ته ویل کیږي؟

ځواب: Finance پانګې او فنډ ته ویل کیږي.

پوښتنه: فاینانسینګ څه ته وایي؟

ځواب: Financing د کاروبار یا شخص لپاره د اړتیا وړ پانګه.

پوښتنه: مالي مدیریت څه ته وایي؟

ځواب: د کاروبار او یا شخص لپاره د اړتیا وړ پانګه برابرول او د دغه اړوند کړنو مدیریت د مالي مدیریت په نامه یادیږي.

پوښتنه: فاینانس یا مالي چارې په څو ډوله دي؟

ځواب: فاینانس په درې ډوله دي: شخصي فاینانس، سوداګریز فاینانس او دولتي فاینانس.

پوښتنه: بزنس فاینانس تعریف کړئ؟

ځواب: بزنس فاینانس په د بحث کوي چې یو بزنس څه رقم خپل فعالیتونه تمویل کړي، ترڅو یې ګټه اعظمي او مصارف یې اصغري وي.

پوښتنه: دولتي یا عامه فاینانس تعریف کړئ؟

ځواب: عامه فاینانس کې دا مطالعه کیږي چې د حکومت رول په اقتصاد کې څه دی یعنې په لنډ ډول څرنګه حکومت عواید راټول کړي او په څه رقم یې مصرف کړي.

پوښتنه:  شخصي فاينانس تعريف کړئ؟

ځواب: شخصي فاينانس يوه داسې اصطلاح ده چې ستاسو د پيسو، سپما، او پانګونې مديريت په کې رانغاړل کېږي. چې دا بيا بودجه بندي، بانکوالي، بيمه، اجاره، پانګونه، تقاعد، پلان ګذاري، ماليه او د املاکو پلان ګذاري په بر کې نيسي.

پوښتنه:  د بزنس فاينانس ورته نومونه کوم دي ؟

ځواب:  Financial Mangement,Corporate Finance.

پوښتنه:  د فينانس له ديده ولې د کاروبار هدف د ګټې اعظمي کول نه دي بلکې د ارزش اعظمي کول يې هدف دي ؟ دلايل يې واضح کړی؟

ځواب: لومړی : دا ځکه چې ګټه هر چاته يوه موضوعي افاده يا مفهوم دی يعنې دا چې واضح نه ده چې کومه ګټه ؟ له مالياتو وړاندی ګټه، خالصه ګټه، اقتصادي ګټه، محاسبوي ګټه، يعنې دا معلومه نه ده چې کومه ګټه ښودل ګيږي ؟

دوهم :  ګټه خطر په نظر کې نه نيسي.

دريم : ممکن کاروبار ګټه وکړي خو بيا هم له افلاس سره مخ وي.

څلورم: ګټه لنډ وخت باندې تمرکز کوي حال دا چې ارزش اوږد مهاله تمرکز دی.

پنځم : ګټه د پيسو زماني ارزش په نظر کې نه نيسي.

پوښتنه:  د يو کاروبار د ارزش د اعظمي کولو لپاره کوم فکتورونه بايد په نظر کې ونيول شي ؟

ځواب:  خطر، مؤثريت، د پانګې اچونې پاليسي، د تمويل پاليسي، د ګټې د ويش پاليسي.

پوښتنه: د تمويل او پانګې اچونې پاليسي يو له بل سره څه فرق لري؟

ځواب: د تمويل په پاليسي کې د لنډ مهالو او اوږد مهالو قرضونو، خپلنی پانګې په اړوند تصاميم او پاليسی دي حال دا چې د ثابتو او جاري شتمنيو پاليسي ګاني د پانګونې د پاليسي په نامه يادېږي يعنې په کل کې تمويلي پاليسي پر منابعو او د پانګونې پاليسي پرشتمنيو تمرکز کوي.

پوښتنه:  د ګټې د ويش پاليسي څه ده؟

ځواب:  د ګټې د ويش پاليسي داده چې د تير کلونو ګټه او د اوسنی مالي دوره د ګټې اړوند تصاميم او پاليسی دي.

پوښتنه:  د اقتصادي او محاسبوي ګټو ترمنځ توپير څه دی ؟

ځواب:  کله چې له غير خالصې ګټې څخه استهلاک او سود يا ربحه منفي کړو نو ترلاسه شوې ګټه محاسبوي ګټه ده ، کله چې بيا له محاسبوي ګټې څخه د خپلنی پانګې مصرف ووزي نو بيا اقتصادي ګټه ترلاسه کېږي.

پوښتنه:  د خطر، نغدينګي او ګټې تر منځ څه ډول اړيکه موجوده ده ؟

ځواب: که چېرې خطر ډېر شي نو نغدينگي کميږي، که خطر ډېر شي نو گټه هم ورسره زياتيږي او که گټه لوړه شي نو نغدينگي ښکته راځي يعنې کميږي.

پوښتنه: په فينانس کې د خپلنۍ پانگې څخه گټه واخيستل شي او که د قرضونو څخه؟

ځواب: له دواړو څخه بايد گټه واخيستل شي خو دا چې په کوم نسبت ؟ دا ډېره مهمه ده خو ياد ساتئ چې د خپلنۍ پانگې مالي خطر نشته پداسې حال کې چې د سرمايې مصرف يې نظر قرضونو ته تر ټولو لوړ دی.

پوښتنه: خطر په څو ډوله دی؟

ځواب: په دوه ډوله دی سيتماتيک خطر او غير سيستماتيک خطر، سيستماتيک خطر هغه خطر دی چې له بازار څخه رامنځ ته کيږي او د فکتورونو په واسطه زمونږ کاروبار متاثره کوي، چې تر ډېره بريده مونږ د هغه د کنټرول وړتيا نه لرو او په درې ډوله ويشل کيږي: د انفلاسيون خطر، د ربحې خطر او د گټې خطر، غير سيستماتيک خطر هغه دی چې پخپله د ادارې څخه رامنځ ته کيږي چې کنټرول يې زمونږ په لاس کې دی يعنې کولای شو چې مديريت يې کړو او په درې برخو ويشل کيږي: د فعاليت خطر، د مديريت خطر او مالي خطر.

پوښتنه: د خطر د سنجش لپاره کوم نسبتونه وجود لري نومونه يې واخلی ؟

ځواب: د شارپ نسبت، د ترينور نسبت، د موډيک لييانې نسبت او د معلوماتو نسبت.

پوښتنه: د پروژو د ارزش د سنجش ميتودونه څو او کوم دي ؟

ځواب: شپږ ميتودونه وجود لري : د فعلي ارزش ميتود، د راتلونکي خالص ارزش ميتود، د داخلي ربحې نسبت، د خالصې ربحې د انديکس ميتود، د بيرته د ورکړې د زمان لومړی او دوهم ميتود او کلنی معادل خالص عايد ميتود.

پوښتنه: فاينانسينگ په څو ډوله ده ؟

ځواب: په دوه ډوله ده : مستقيم او غيرمستقيم فاينانس.

پوښتنه: د مستقيم فاينانسينگ اداري يا مرجعې کومې دي ؟

ځواب: مالي دلالان ، معامله کوونکي او د پانگې اچونې بانکونه.

پوښتنه: د غير مستقيم فاينانسينگ اداري کومې دي نومونه يې واخلی ؟

ځواب: تجارتي بانکونه، د بيمې شرکتونه او د اجتماعي تامين اداري چې دې کې بيا د ژوند د بيمې شرکتونه ، د کارگرانو د بيمی شرکتونه او د اجتماعي تامين اداري شامليږي، د پانگې اچونې فنډونه، د سرمايه گذارۍ شريکان ، د تمويل شرکتونه، د مالي کرايي شرکتونه او فکتورينگ شرکتونه نومونه اخيستلی شو.

پوښتنه: په ننی ډول بانکونه څه ډول تقسيم بندي کېدای شي؟

ځواب: بانکونه داسې تقسيم بندي کېدای شي: اسلامی بانکونه ، تجارتي بانکونه، د پانگې اچونې بانکونه، د سپما بانکونه، کوپراتيفي بانکونه، د اجارې بانکونه، د ملي پس انداز بانکونه، د قرضې د اتحاديې بانکونه او مرکزي بانک.

پوښتنه:  په فاينانس کې د ايجنسي تيوري څه ده واضح يې کړی ؟

پوښتنه: ايجنسي تيوري دا واضح کوي چې کاروبار سهمداران او مديران سره جلا دې او مديرانو ته د سهامدارانو لخوا د مديريت واک سپارل کيږي تر څو کاروبار مديريت کړي ، کچېرې تر منځ يی ستونزه راځي نو بيا دغه ستونزه خپل مصرف لري چې دغه مصرف ته بيا د ايجنسي مصرف وايي ياده د وي چې ځينې وخت د دواړو لوريو ګټې يو له بل سره په ټکر کې راځي.

پوښتنه:  د مالي مشتقاتو نومونه واخلی ؟

ځواب:  اختياري معاملات، سوپ معاملات، راتلونکي معاملات او فارورد معاملات.

پوښتنه:  د راتلونکي او فارورد معاملاتو ترمنځ توپيرڅه دی واضح يې کړی؟

ځواب:  راتلونکي مالي معاملې په ستندرد شکل تر سره کيږي او ډيری وخت د دغه معاملو حجم ډير لوړ وي حال دا چې فارورد  معاملې هم ستندرد نه وې او هم يې حجم کم وې.

پوښتنه:  مهم مالي بازارونه ډولونه کوم دي نومونه يې واخلی ؟

ځواب:  د فزيکي شتمنيو بازار، د مالي شتمنيو بازار، د پيسو بازار، د سرمايې بازار، لومړی بازار، دوهمي بازار، نړيوال بازار، منطقوي بازار، ملي بازار، محلي بازار، خصوصي بازار، دولتي بازار ، جاري بازار او راتلونکي بازار نومونه يادولی شو.

پوښتنه:  کاروبار په څو ډوله دی ؟

ځواب:  کاروبار په درې ډوله دی : انفرادي کاروبارونه ، شرکتونه او کمپنی.

پوښتنه: د مالي مديريت اړوند لس مهم قوانين کوم دې ؟

ځواب:  د مالي مديريت قوانين دا دې :

۱.  د خطر او محصول ترمنځ توازن: يعنې د اضافي محصول په وړاندې اضافي خطر بايد قبول نه شي.

۲. پيسط خپل وخت لري: يعنې ارزش يې وخت نا وخت تغير کوي، د نن پيسی د سبا له پيسو څخه غوره دې.

۳. ګټه مهمه نه ده، نغده مهمه ده يعنې پاچا ده.

۴: د اضافي پيسو جريان، د کارو بار په ارزښت کې بدلون راولي.

۵: په بازارونو کې د رقابت ستونزه: يعنې په فوق العاده توګه د ګټورو پروژو پيدا کول اسانه کار نه دی.

۶: د شريکانو يا سهم دارانو او کارکونکو ترمنځ لانجه: يعنې دا چې کارکونکي ځان په ښه ډول تامين کړي نو بيا د سهمدارانو لپاره سم کار نه کوي.

۷: ماليه د شرکتونو يا کاروبارونو پر تصاميمو اغيز کوي.

۸: ټول خطرات یو شان نه دي ځینې مدیریت کېدای شي او ځینې بیا نه مدیریت کېږي یعنې ځینې خطرونه کمیدای شي ځینې بیا نه کمیدونکي خطرات وي.

۹: اخلاقي رویه سم کار دی که اخلاق نه وي نو پیسې له هر ځایه تمویل کېدای شي.

۱۰: بازارونه په چټکۍ سره کار کوي ، قیمتونه واقعي قیمتونه دي.

پوښتنه: د مالي ادارو نومونه واخلئ ؟

ځواب: تجارتي بانکونه، د پانګې اچونې بانکونه، د قرضونو اتحادیې، د بیمې شرکتونه، د فینانس شرکتونه، د پانګې اچونې شرکتونه او د پانګې اچونې فنډونه نومونه یادولی شو.

پوښتنه: دپیسود بازار وسایل څه دي؟

ځواب: د تمویل بیلونه، خزانه او عامه بانډونه، مالي سندونه او بانک ته منونکي وسایل په کې شامل دي.

پوښتنه: د سرمایې د بازار وسایل کوم دي نومونه یې واخلی ؟

ځواب: د حصې سندونه، د قرضې سندونه او مالي مشتقات یې وسایل دي .

پوښتنه: مالي صورت حساب څه ته وایي او کوم اقلام په نظر کې نیول کېږي؟

ځواب: مالي صورت حساب د یو کاروبار په معلومه اقتصادي دوره کې د مالي کړونو صورت حساب یا حساب او کتاب دی. او په لاندې ډول اقلامو په نظرکې نیولو سره داسې ترتیب کېږي.

د تنویر لمیتید شرکت ، ۳/۳/۱۴۰۰ کال مالي صورت حساب

خالص فروشات XXX

(-) د خرڅ شوو اجناسو مصارف XXX

د فروشاتو ناخالصه ګټه XXX

(-) د مدیریت او فروشاتو مصارف XXX

د استهلاک، ربحې او مالیې نه وړاندې ګټه XXX

(-) استهلاکات XXX

د ربحې او مالیې نه وړاندې ګټه XXX

(-) ربح XXX

خالصه عملیاتي ګټه XXX

(+) له نورو فعالیتونو څخه عواید او ګټه XXX

(-) له نورو فعالیتونو څخه مصرف او تاوان XXX

عملياتي ګټه XXX

(+) فوق العاده عوايد او ګټه XXX

(-) فوق العاده مصرف او تاوان XXX

د مالي دورى ګټهXXX

(-) ۲۰٪ ماليه XXX

خالصه ګټه XXX

---

اضافي معلومات

۱ : د ګټې د ويش تاديه کېدونکي مقدار XXX

۲: د حصې پر بنسټ ګټه XXX

۳: د حصې پر بنسټ د ګټې ويش XXX

پوښتنه: مالي صورت حساب بل په کوم نامه يادولی شو؟

ځواب: د عوايدو او مصارفو صورت حساب په نامه يې هم يادولی شو.

پوښتنه: بيلانس شيټ څه دی او کوم اقلام په نظر کې نيول کېږي؟

ځواب: بيلانس شيټ د کاروبار ثابتی او جاري شتمني، لنډ مهاله او اوږد مهاله قرضې او خپلنۍ پانګه په کې ښودل کېږي او په لاندې ډول اقلام په کې ذکراوترتيب کېږي.

د بهیر لمیتید شرکت ۱۳۹۹ او ۱۴۰۰ کال بیلانس شیټ

| Active (پانګه اچونه) | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ | Passive (تمویل) | ۱۳۹۹ | ۱۴۰۰ |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱: جاري شتمنۍ | | | ۱: لنډ مهاله قرضې | | |
| • نغده اود بازار وړ تضمینات | xxx | xxx | • مالي قرضې | xxx | xxx |
| • تجارتي طالبات | xxx | xxx | • تجارتی قرضې | xxx | xxx |
| • ګودام یا ذخیره | xxx | xxx | • تحقق موندونکي مصارف | xxx | xxx |
| • نورې جاري شتمنۍ | xxx | xxx | • نورې لنډ مهاله قرضې | xxx | xxx |
| د جاري شتمنیو مجموع | xxx | xxx | د لنډ مهاله قرضونو مجموع | xxx | xxx |
| ۲: ثابتې شتمنۍ | | | ۲: اوږد مهاله قرضې | xxx | xxx |
| • ځمکه او تعمیرونه | xxx | xxx | د قرضونو مجموع | xxx | xxx |
| • ماشین الات او تجهیزات | xxx | xxx | ۳: خپلنی پانګه | xxx | xxx |
| • (-)استهلاک | xxx | xxx | • پانګه | xxx | xxx |
| • خالص ماشین الات او تجهیزات | xxx | xxx | • احتیاط | xxx | xxx |
| • مالي پانګه اچونه | xxx | xxx | • غیر تقسیم شوې ګټه | xxx | xxx |
| • نورې ثابتې شتمنۍ | xxx | xxx | د خپلنی پانګې مجموع | xxx | xxx |
| د ثابتو شتمنیو مجموع | xxx | xxx | | | |
| د اکتیف مجموع | xxx | xxx | د پیسف مجموع | xxx | xxx |

پوښتنه: د پیسو د جریان صورت حساب څه دی، کوم اقلام په نظر کې نیول کیږي او په څه ډول ترتیب کیږي ؟

ځواب: د پیسو د جریان صورت او حساب یعنې چې کاروبار ته څومره نغده راځي او په کومه کچه نغده ترې وزي. د یادونې وړده، چې د کاروبار د ارزش د اعظمي کولو لپاره د کاروبار د نغدې جریان مهم دی په داسې حال کې چې د شرکت ګټه اعظمي کولو لپاره د عواید او مصارف د توپیر زیاتوالی مهم ګڼل کیږي. لاندی اقلامو ته په کتو سره په داسې شکل د یو کاروبار د نغدې جریان ترتیب کیږي.

## د بهیر تجارتي شرکت ۲۰۲۰ کال د نغدي جریان صورت حساب

الف : تجارتي فعالیتونه

د فنډ منابع:

- خالصه ګټه ۲۲۴
- استهلاک ۱۴۰
- د تجارتي قرضونو زیاتوالی ۷۰
- په نورو جاري قرضونو کې زیاتوالی ۱۴

د فنډ څخه کار اخیستل:

- تجارتي طلباتو کې زیاتوالی (۸۴)
- د ګودام زیاتوالی (۲۴۵)
- د نورو جاري شتمنیو زیاتوالی (۳۵)
- د نورو تجارتي فعالیتونو څخه تهیه شوي خالص نغدي مقدار ۸۴

ب: اوږد مهاله د پانګې اچونې فعالیتونه:

- ماشین الات او تجهیزات (۲۱۰)
- مالي پانګه اچونه کې زیاتوالی (۷۰)
- نورو ثابتو ارزښتونو کي زیاتوالی (۴۲)
- په ثابتو شتمنیو کې د استفاده شوو نغدي مقدار (۳۲۲)

ج: مالي فعالیتونه:

- مالي قرضونوکې زیاتوالی ۴۲
- په اوږد مهاله قرضونو کې زیاتوالی ۲۴۲
- د ګټې د ویش تادیه (۱۴۴)
- د مالي فعالیتونوڅخه تهیه شوې خالصې نغدي مقدار ۱۴۰

خلاصه:

- په نغده کې خالص تغیرات (۹۸)
- مالي دورې په پیل کې نغده اود بازار وړ تضمینات ۱۱۲
- مالي دورې په پای کې نغده او د بازار وړ تضمینات ۱۴

پوښتنه: د حصې سند او د قرض سند څه فرق لري ؟

ځواب: د حصې سند مالک ته ګټه ورکول کېږي پداسې حال کې چې د قرضي پر سند باید خرڅوونکي ته سود ورکړل شي، د قرضي سند د مشخص وخت لپاره وي خو د حصې سند موده بیا مشخصه یا معلومه نه وي، د حصې سند د یو چا ملکېت ښیي خو د قرضي سند بیا د اخیستونکي لپاره قرضه او د خرڅوونکي لپاره سود جمع هغه پیسې کوم چې په قرض یې ورکړې وي، څرګندونه کوي.

پوښتنه:  د قرضې ګټې او تاوانونه څه دي ؟

ځواب:  د قرضې ګټې دادي:

۱: قرضه په هر مقدار ترلاسه کېدای شي.

۲: د قرضې مصرف یا سود تر خپلنې پانګې کم وي.

۳: قرضه ورکوونکي په مدیریت او کنټرول د کاروبار کې سهم نه لري.

۴: قرضه په هر ډول او هر ځای کې چې وغواړی استفاده کولای شی.

د قرضې تاوانونه  بیا دا دی:

۱: د قرضې مقدار او زمان معلوم وي.

۲: هر وخت د قرضي لاسته راوړل ممکن نه وي.

۳: د قرضې ورکړه حتمي ده که چېرې ټوله قرضه ورکړل شي نو د کاروبار نغدینګی د ستونزو سره مخ کولای شي.

۴: د ټولې قرضې ورکړه د کاروبار ټوله شتمني کموالی او خرابولی شي.

پوښتنه:  د عادي او امتیازي د حصې سندونو سره څه توپیر لري ؟

ځواب:  د عادي او امتیازي د حصې سندونو توپیر داسې کېدای شي:

۱: د امتیازي د حصې سند خاوند د مدیریت لپاره د رایې حق نه لري پداسې حال کې چې د عادي حصې سند خاوند یې حق لري.

۲: د ګټې د ویش پر مهال د امتیازي سند خاوند د عادی سند خاوند په پرتله  د لمړیتوب حق لري.

۳: د امتیازی حصې سند خاوند ته کاروبار ګټه د ګټې د ویش پر مهال یې حساب تصفیه کېږي پداسې حال کې چې د عادي حصې سند د خاوند ګټه بیا په کار لویدای شي.

پوښتنه:  د یوې پروژې د پانګوونې د تحلیل لپاره کوم فکتورونه باید په نظر کې ونیول شي ؟

ځواب:  د پانګونې مجموعي مصارف، د پانګونې عمر، د پانګونې د نغدي جریان، د پانګونې د منابعو مصرف او د مالیی نسبت یا ریټ فکتورونه د یو پروژې پر تحلیل اغیز لري.

پوښتنه:  د مالي او واقعي اقتصاد ترمنځ توپیر څه دی؟

ځواب:  مالي اقتصاد ؛ د ربحې نرخ، د خارجي تبادلي نرخ او د حصي د سندونو قیمتونه څیړي او په واقعي اقتصاد کی بیا ګټه، استخدام، انکشاف او د عادلانه عواید توزیع موضوعات مطالعه کیږي.

پوښتنه:  فاینانس کې فنډ څه ته ویل کیږي؟

ځواب:  په پراخه معنی سره ټولې شتمنۍ په کې شاملیږي هغه که جاري شتمنۍ دي او که ثابتې ،

په لږ پراخه معنی سره بیا فنډ ثابتې کاري سرمایه ته ویل کیږي او په دقیق توګه بیا فنډ نغده او نغدي ته ورته ته استفاده کیدونکی اصطلاح ده.

پوښتنه:  استهلاک د فاینانس او محاسبی له نظره څه فرق لري؟

ځواب:  استهلاک د محاسبې له نظره لګښت او د فاینانس له نظره بیا فنډ یا هم شتمني ده.

پوښتنه:  Factoring او Forfaiting څه ته وایي او څه فرق لري؟

ځواب:  فکتورینګ یو داسې معامله ده کوم چې بزنس خپل طلبات په دریم لوري ( مالي کمپنۍ) باندې خرڅوي. دلته کمپنی د فکتور په نامه پیژندل کیږي چې بیا دغه فکتور خپل تادیات د کمپنی د مشتریانو د طلباتو څخه په لاس راوړي . د فکتورینګ او پورفیتنګ فرق دا دی چې فکتورینګ کې لنډ مهاله طلبات او په پورفیتنګ کې بیا منځ او اوږد مهاله طلبات خرڅیږي.

پوښتنه:  فارکس (Forex) څه ته وایي؟

ځواب:  فارکس ته په انګلیسي کې (Foreign Exchange) وایي یعني د خارجي تبادلي مخفف دی کوم چې د یو هیواد د یو واحد پیسو په مقابل کې د بل هیواد د پیسو اخیستل او خرڅول دي.

پوښتنه: مالي صورت حسابونه په څو ډوله دي؟

ځواب: مالي صورت حسابونه په دوه ډوله دی : اساسی مالي صورت حسابونه او اضافی مالي صورت حسابونه، چې اساسی مالي صورت حسابونو کې د عوایدو صورت حساب او بیلانس شیټ راځی او په اضافی صورت حسابونه کې بیا د خپلنی پانګې د تغیراتو صورت حساب، د فنډ د جریان صورت حساب، د نغدی د جریان صورت حساب، د ګټې د ویش صورت حساب او د اجناسو د فروشاتو د مصارفو صورت حساب شامل دی.

پوښتنه: متداومه پانګه کومه پانګه ده؟

ځواب: کله چې له خپلنی پانګې سره اوږد مهاله قرضې یو ځای شی.

پوښتنه:  خالصه کاروباري  سرمایه کومه سرمایه ده؟

ځواب:  کله چې د جاري شتمنۍ څخه جاري قرضه ویستل شي، پاتې جاري شتمنۍ ته خالصه کاروباري سرمایه ویل کیږي .

پوښتنه: د عوایدو مالیات او د اداري مالیات سره څه فرق لري؟

ځواب: دلته عواید د مالیاتو تابع دي. د مالیاتو نرخ د عوایدو په اندازه پورې اړه لري او د معین مقدار څخه زیاتوالي په صورت کې د مالیاتو نرخ هم تغیر کوي او د اداري مالیات هغه مالیات دي چې د ادارې په ټولو عوایدو په یوه ثابته اندازه چې معمولا د مالیاتو نرخ ٪۲۰ دې وضع کېږي ، یاده د وي چې هر هیواد د ادارې مالیات او د عوایدو مالیاتو نرخونه نظر د هر هیواد اقتصادي وضعیت او سیاست ته فرق کوي.

پوښتنه: ربحه څه ده او په څو ډوله ده؟

ځواب: د سرمایې د سلنی څخه د ګټې یوه برخه عبارت له ربحی څخه ده او ربحه په دوه ډوله ده : ساده ربحه او مرکب ربحه، ساده ربحه په شتمنی باندې ګټه کول دي پداسې حال کې چې مرکبه ربحه په شتمنیو او ګټه باندې ګټه کول دې.

پوښتنه: د ساده او مرکبې ربحې فورمولونه کوم دي ؟

ځواب: د ساده ربحې او مرکبې ربحې فورمولونه په لاندی ډول دي .

$F= P (1+in)$ ساده ربحې فورمول

$i=$ د ربحې نرخ

$n=$ د پانګونی د ربحې نرخ

$P=$ د پانګونی فعلی ارزش

$F=$ د پانګوني راتلونکې ارزش

$F= P\ (1+i)^n$ د مرکبی ربحې فورمول

پوښتنه: د واقعي ربحې توپیر د اسمي ربحې سره په څه کې دی ؟

ځواب: دغه فورمولونو کی یی توپیر روښانه کیدای شی: $i=ir=\left(1+\frac{b}{m}\right)^m -1$ , $b= im^m$

$İr=$ واقعي ربحه ،$m=$ زمان ،$b=$ اسمي ربحه ،$im=$ واقعی ربحه

پوښتنه: دبازار د ربحې په نرخ کوم فکتورونه اغیز لري؟

ځواب: د خطر پریم + بې خطره د ربحې نرخ = د بازار د ربحې نرخ

د سیالیت د پریم خطر+ د غیر تادیې خطر+ د انفلاسیون د پریم خطر+د زمان د پریم خطر = د خطر پریم.

پوښتنه: څوک د مالي صورت حسابونه څخه استفاده کوي ؟

ځواب: سهمداران، پانګه اچونکې ، قرض ورکونکي، د نورو مسلکونو خاوندان چې دغه کټګورۍ کې مالیاتي اداري، مفتشین ، د بیمې شرکتونه او محصلین راتللی شي.

پوښتنه: مالي مدیر د صورت حسابونو لپاره د کومو مدیریتونو څخه کار اخلي؟

ځواب: د نسبتونو تحلیلونو، پرتلیز تحلیلونو، ټرینډ یا د تمایل د سلنی تحلیلونو د مدیریت څخه کار اخلی.

پوښتنه: د مالي صورت حسابونه د تحلیل لپاره د نسبتونو کوم ګروپونه موجود دی، چې هر ګروپ بیا یوه مجموعه نسبتونه لري؟

ځواب: د نغدینګی نسبتونه، د ګټی اخیستنی نسبتونه، د بیرته د راتګ د سرعت نسبتونه، د مقایسی نسبتونه، د ګټورتیا نسبتونه او د ودی، د خرڅلاو د سلنې او د بازار د ارزښت نسبتونه شپږمه کټګوري کې راځي.

پوښتنه: کاروبارونه له وړاندې څخه چې د افلاس سره به مخ شي یا به نه شي یعني معلومه نه ده چې مخ به شي او کنه ، د اټکل لپاره یی له کومو موډولونو څخه باید استفاده وشي؟

ځواب: التمان موډل،زیتا موډل،جیسرموډل او باتوري موډل

پوښتنه: مالي مشتقات د کوم هدف لپاره ترسره کیږي ؟

ځواب: د پانګې اچونې، اربیتراژ، احتکار او د مالي خطر څخه د مخنیوي په پار د مالی مشتقاتو څخه استفاده کیږی.

پوښتنه: د قرضي د سند د درجه بندی ستنډردونه د څه په نامه یادیږي؟

ځواب: ستنډرد او پورز(Standard and poor's)، موډیز(Moodys) او پیچ (Fitch).

پوښتنه: د فروشاتو د مصارفو صورت حساب څه دی او په کی، کوم اقلام په نظر کې نیول کیږي ؟

ځواب: د فروشاتو د مصارفو ښودونکې صورت حساب ته د فروشاتو د مصارفو صورت حساب وایي اوپه لاندې شکل ترتیبیږي؟

د فروشاتو د مصارفو صورت حساب

د تولید مصارف

(+) د تولید د پروسې مصارف

د خرڅ شویو تولیداتو مصارف

(+) د خرڅ شویو تجارتي اموالو مصارف

(+) د خرڅ شویو خدماتو مصارف

د خرڅلاوو مصارف

پوښتنه: د کاروبار لپاره ولې نغده په کار وي ؟

ځواب: د تولید ، احتکار او احتیاطي تدابیرو لپاره نغدې ته په کاروبار کی اړتیا وي.

پوښتنه: د پیسو د مدیریت لپاره د پریکړې کوم موډولونه شته، نومونه یې واخلی؟

ځواب: ډبلیو باومول موډل (W. Baumol Model) ، میلر- اور موډل (Miller-Orr Model) .

پوښتنه: د واقعي ربحې نرخ لپاره د کوم فورمول څخه استفاده کېږي ؟

ځواب: واقعي ربحي نرخ = (د اسمي ربحې نرخ – د انفلاسيون نرخ) / (۱+د انفلاسيون نرخ)

پوښتنه: LIBOR څه ته وايي؟

ځواب: د انګلستان د بانکونو ترمنځ د قرضې د راکړې او ورکړې د ربحې يا سود نرخ دی .

پوښتنه: Franchise څه ته وايي؟

ځواب: د يو کاروبار نوم د حق اخيستلو يا کرايه کولو ته وايي.

پوښتنه: يورو بانډ څه ته وايي ؟

ځواب: د هغه د قرضې سند ته ويل کېږي چې يو هيواد يې په بل هيواد کې صادروي ، ياده د وي چې صادرکېدونکي هيواد کې د قرضې دغه سند بايد د دوی په ملي کرنسي نه وي، لنډه دا چې يورو بانډ نه په يورو او نه په اروپا پورې اړه لري مثلا: امريکا په انګلستان کې د قرضې سند په ين صادروی يعنې په پونډ يی نه صادروي نو دی صورت کې دغه د قرضې سند د يورو ين په نامه ياديږي. که چېرې د قرضې سند په هره کرنسي صادر شي نو ورسته له يورو د هغه کرنسي نوم وراضافه کېږي کوم چې د قرضې سند پرې صادر شوی دی.

پوښتنه: ولې د پانګې د مصرف سنجش مهم دی؟

ځواب: ځکه چې پانګه د توليد عامل دی، د پروژو د ارزش د تحليل لپاره د پانګې مصرف مهم دی ، د شرکتونو د ارزش د معلومولو لپاره بايد د سرمايی مصرف مشخص وی او د مطلوبی سرمايی د چلند لپاره د سرمايی د مصرف سنجش بايد وشي.

پوښتنه: WACC ( د پانګې د تامين وزني – اوسط لګښت) تعريف کړی؟

ځواب: د پانګې د ټولو برخو په ګډون عادي اسهام، امتيازی اسهام ، د قرضې سند او نور اوږد مهاله قرضې د وک په محاسبه کې شامليږي. کاروبار کې چې څومره خپله او پردی پانګه استفاده کېږي، د پانګې، قرضونو او ثابتو شتمنيو د استفادې نسبت يا سهم ته په کتو سره په اوسط ډول د پانګې د مصرف پيدا کول دي.

پوښتنه: WACC له کوم فورمول څخه ترلاسه کېږي؟

ځواب: د پانګې د مصرف اوسطه وزنه = (**لنډ مهاله خارجي منابعو مجموعه** / **په مجموعی تمويل**) * د لنډ مهاله خارجي منابعو مصارف * ( ۱- د ماليې نرخ ) + (**اوږد مهاله خارجي منابعو مجموعه** / **په مجموعي تمويل**) * د اوږد مهاله خارجي منابعو مصارف * ( ۱- د ماليې نرخ ) + (**د خپلنی پانګې مجموعه** / **په مجموعي تمويل**) * د خپلنی پانګې مصارف

پوښتنه: ولی WACC مهم دي؟

ځواب: ځکه چې د کاروبار سهمدارانو د زیان څخه مخنیوی کوي، څومره چې وک (WACC) کم وي په همغه کچه د کاروبار ارزښت ډیر وي.

پوښتنه: د سرمایوي شتمنۍ د قمیت اینودنی موډل څخه په استفاده متوقعه حاصلات له کوم فورمول څخه لاسته راځي؟

ځواب:

$$KS = K_{rf} + \left[E\ (\mathrm{Rm}) - K_{rf}\right] * B_i$$

Ks = د متوقعه محصول نرخ

$E$ (Rm) = د بازار څخه د متوقعه محصول نرخ

$K_{rf}$ = بی خطره د ربحي نرخ

$B_i$ = د مربوطه شرکت د بیتا ضریب

پوښتنه: د غیر تقسیم شوې ګټې مصارف د کوم فورمول په واسطه سنجش کیږي؟

ځواب: د هر حصې سند پر سر ګټه $= \dfrac{\text{د ربحې او مالیه څخه ورسته ګټه}}{\text{د حصې سندونو پر شمیر}}$

پوښتنه: نړیوالی خارجي پانګونې په څو ډوله دې؟

ځواب: نړیوالې خارجې سرمایه ګذارۍ په دوه ډوله دي: مستقیمه خارجي پانګه اچونه او غیر مستقم خارجي پانګه اچوني، مستقیمه خارجي پانګونه د پانګوني فزیکي شکل دی چې له هیواد څخه بهر صورت نیسي د مثال په توګه په خارج کې د کاروبار شروع کول یا هم په خارج کی د چا سره په کاروبار کې شریک کېدل خو غیر مستقیم پانګونه بیا هغه پانګونه ده چې مالي بازارونه کی پراسهامو او د قرضي پر سندونه پانګونه کیږي چې دغه غیر مستقیمه پانګونې ته د پورتفولیو او یا هم مالي سرمایه ګذاري نوم هم ور کول کیږی.

پوښتنه: د مناسبې ګټې د ویش په موخه کومې پالیسی شتون لري، نومونه یې واخلی ؟

ځواب: درې تیوري د ګټې د ویش د پالیسیو په نامه شتون لري. بې تړاوه د ګټې ویش تیورۍ، لاس کې د مرغی تیوري او د مالیاتو د ترجیح تیوري.

پوښتنه: د ګټې د ویش تیوریګانې په خلص ډول واضح کړئ؟

ځواب: بې تړاوه د ګټې د ویش تیورۍ دا وایي: چې که د کاروبار ګټه د سهمدارانو ترمنځ که تقسیم شي او یا هم بیا په کار واچول نو فرق نه کوی. لاس کې د مرغی تیوري بیا ګټه د سهمدارانو ترمنځ ویش ښه بولي نظر دیته چې بیا په کار واچول، یعنې دا تیوري دا واضح کوی چې لاس کې ګټه له هغی ګټې چې تر لاسه کېدونکې ده، غوره ده. د مالیې د ترجیح تیوري بیا دا واضح کوی چې د کاروبار ګټه، که بیا په کاروبار

واچول شی نظر دیته چی د شریکانو ترمنځ وویشل شی غوره ده، ځکه چې د ګټې د ویش د مالیې نرخ نظر دیته چې ګټه بیا په کار واچول شي، لوړ دی.

پوښتنه: د حصې سند د ارزش د کوم فورمول په واسطه ټاکل کېږي؟

ځواب: د حصې د سند ارزش= $\sum_{t=1}^{\infty}\frac{\text{د ګټې ویش په افغانیو}}{(1+Ks)^t}$

د متوقعه محصول نرخ =Ks , د مالي دوری شمیر=t

پوښتنه: په کمپنیو کې د مدیریتي بورډ د غړو تعیین د کوم فورمول څخه په استفاده ترلاسه کېږي؟

ځواب: د مدیره هیت د غړو د ټاکل کېدو لپاره د رایو شمیر =P $\mathbf{P} = \frac{Y*H}{N+1} + 1$

د بورډ د غړو شمیر چې ټاکل کېږي =Y، ټولټال د رایو شمیر =H، د بورډ د غړو شمیر =N

پوښتنه: د حصې د سندونو د بازارونو څخه څه ګټه ترلاسه کېدای شي؟

ځواب: د نغدینګي چمتوالی، د قیمت میکانیزم، د منابعو ایجاد یا پیداښت او د خطر مېریت پرې کېدای شي.

پوښتنه: د حصې سندونه بازارونه په څو ډوله دي؟

ځواب: پرمختللي او مخ پر ودې د حصو سندونو بازارونه، پرمختللي د حصې سندونه بازارونه هغه بازارونه دي چې د نړیوال بانک له مخې هغه هیوادونه چې د فی نفر ۱۲۳۷۵ ډالرو څخه زیات ناخالص ملي تولیدات ولري شاملیږی، چې دغه هیوادونه کې امریکا، اروپایي او لیرې شرق هیوادونه راځي .

پوښتنه: د امریکا مشهور د حصې سندونه بازارونه کوم دی نومونه یی واخلئ؟

ځواب: د نیویارک د حصې سند، د امریکا د حصې سند، د چیکاګو د تجارت بورډ او د چیکاګو د تجارتي تبادلی نومونه اخیستلای شو.

پوښتنه: د حصې د سندونو په بازارونو کې کوم هیوادونه د مخ پر ودې بازارونه لري نومونه یې واخلئ؟

ځواب: د مخ پر ودې حصې سندونه بازارونو کې د بریک (BRIC)هیوادونه شامل دي چې برازیل، روسیه ، هندوستان او چین دی خو د ځینو نورو هیوادونو د حصې سندونو بازارونه هم مخ پر ودې بازارونو کې راځي چې کولای شو جنوبی کوریا، ترکیه، مکسیکو، اندونیزیا، او نایجریا هیوادونو نومونه واخلو.

پوښتنه: په ۲۰۱۹ کال کې د حصې سندونو بازارونه په کوم ترتیب درجه بندي شوي دي؟

ځواب: :د نیویارک، NASDAQ، توکیو، لندن او شانګهای په توګه درجه بندی شوی دی.

پوښتنه: اندیکس څه ته وایي او دڅو مشهورو اندیکسونو نومونه واخلئ؟

ځواب: د مختلفوحصوسندونو یوه مجموعه ده چې هر شرکت په اندیکس کې مشخصه برخه لري. او مشهور اندیکسونه دادي : S and P Global 100, Dow Jones, FTSE,SPI,NYSE Composite,TOPIX,AMEX Composite, Financial Times World

پوښتنه: مرکزي بانک د استقلالیت لپاره څلور کوم عناصر مهم ګڼل کېږي؟

ځواب: د اهدافو، وسایلو، مالي او اداري استقلالیتونه هغه څلورعناصردی چی مهم ګڼل کیږی.

پوښتنه: د مالي صورت حسابونه تحلیل په څو ډوله کېدای شي؟

ځواب: افقي تحلیل، عمودي تحلیل، د نسبتونو تحلیل او د ټرینډ تحلیل

پوښتنه: پورتفولیو څه ته وایي؟

ځواب: د مالي سرمایه ګذاری په مختلفو برخو لکه حصې سندونو، قرضې سندونه، اجناسو ، کرنسیو کې پانګوونی ته پرتفولیو وایي یا په مالي سرمایه ګذاری کې د خطر د مدیریت لپاره په مختلفو برخو کې پانګونی ته پرتفولیو وایي.

پوښتنه: د قرضې د سند ارزش لپاره کوم فورمول څخه استفاده کېږي ؟

ځواب:

$$P=\frac{C}{(1+kd)^1}+\frac{C}{(1+kd)^2}+\frac{C}{(1+kd)^3}+\ldots\ldots\ldots\ldots+\frac{C}{(1+kd)^n}+\frac{M}{(1+kd)^n}$$

P= قیمت , C= د کوپون تادیه د بازار د ربحې دوراني نرخ =kd ، ۶ میاشتو لپاره ترسره شوی

n= د مالي دورو شمیر ، M=د وعدې د پای ارزش

پوښتنه: د کومو اقلامو لګښت سنجول کېږي؟

ځواب: غیر تقسیم شوې ګټه ، خپلنی پانګه، پردئ پانګه یا قرضه، د حصې او د قرضې د سندونو

پوښتنه: بودجه څه ته وایي؟

ځواب: بودجه د یو مشخصې دورې معمولا (یو کال) لپاره مالي پلان دی.

پوښتنه: د استهلاک مفهوم واضح کړئ؟

ځواب: په اقتصادي دوره کې د شتمنیو څخه استفاده د شتمنیو په ارزش کې د کموالي په معنی ده نو هغه میتود چې د فزیکې شتمنیو مصرف بیا تخصیص کړي نو دیته استهلاک وایي.

پوښتنه: بیتا ( $B_i$ ) څه مفهوم لري؟

ځواب: د بازار د خطر د ارزش د سنجش ضریب دی.

پوښتنه: اندیکس څه ته وایي؟

ځواب: اندیکس د حصو د سندونو یوه مجموعه ده چې هر شرکت د خپلو حصې سندونو سهم مطابق د دغه اندیکس په قیمت باندی تاثیر لري. مثلا BIST 30 اندیکس کې د دیرشو کمپنیو حصې شته دي چې د هر شرکت حصې د نورو شرکتونو په پرتله ډیرې وي نو په همغه اندازه د اندیکس په قیمت باندې ډیر تاثیر لري هغه که مثبت وي او که منفي.

پوښتنه:  د دولت د راټولولو لپاره یوه وسیله ټکس دی نو ټکس په کوم څه وضع کیدای شي؟

ځواب:  ټکس په عوایدو، فروشاتو او ملکیت باندې وضع کېدای شي.

پوښتنه: د ټکس اړوندی تیوری کومې دي نومونه یې واخلئ؟

ځواب:  د ټکس د ګټې تیوري، د ټکس د فاکولتې تیوري، د ټکس د ملکیت تیوري، د ټکس د قانون تیوري او د ټکس د عوایدو تیوري.

۱: د ټکس د ګټې تیوري وایي: تر هغه وخت خلک او حقوقي اداري حاضرې دي چې ټکس ور کړي، چې ترڅو دوی ته تر هغه ډیره ګټه ورسیږي.

۲: د ټکس د فاکولتی تیوري وایي چې د دولت د مصارفاتي بوج کمیدو لپاره ټکس ورکوونکي ترخپل وسه کمک کوونکي دي.

۳: د ټکس د ملکیت تیوري بیا وایي که هر ډول ملکیت وي د مالیې تابع ګرځي د بیلګي په ډول هغه که فردي ملکیت، شریک ملکیت او یا هم عامه ملکیت وی.

۴: د ټکس د قانون تیوري بیا دا وایي چېرته چې د قانون حاکمیت وې نو مالیه راټولیدای شي غیر د هغو کي به نا ممکن وي چې مالیه را ټوله شي.

۵: د ټکس د عوایدو تیوري دا بیانوی چې په معین مقدار د عوایدو باندی ټکس وضع کېږي یعنې دا چې د عوایدو په خاص مقدار کېدای شي ثابت مقدار مالیه وضع شي خو د عوایدو په زیاتیدو بیا کېدای شي ثابته ، صعودي او یا هم  نزولي مالیه وضع شي.

پوښتنه: ډالر انډیکس څه ته وایي او د کوم فورمول په واسطه سنجش کېږي؟

ځواب:  ډالر انډیکس یو داسې انډیکس دی چې ډالر د سهم په ګډون د نورو نړیوالو پیسو سهمونه هم په کې شتون لري او د لاندی فورمول په واسطه سنجش کېږي.

$$USD_X = 50.143 \times EURUSD^{-0.576} \times EURJPY^{0.36} \times GBPUSD^{-0.119} \times USDCAD^{0.091} \times USDSEK^{0.042} \times USDCHF^{0.036}$$

پوښتنه:  د امانت اېښودنې ( Depository Receipts) سند څه ته وایي ؟

ځواب:  دغه د امانت اېښودنې هغه سندونه دي چې د خارجي کمپنیو د حصې سندونه د یو بل هیواد په مالي بازارونو کې خرڅ او واخیستل شي.

پوښتنه:  د امانت د اېښودنې ډولونو نومونه واخلئ؟

ځواب:  امریکایي د امانت دایښودنې سندونه، نړیوال د امانت د ایښودنې سندونه او اروپایي د امانت د ایښودنې سندونه.

پوښتنه:  د تبادلې سوداګریز فنډ (Exchange Traded Fund) څه ته وایي؟

ځواب:  دا یو داسې مالي اداره ده چې د خلکو څخه پیسې را ټولوي په دې موخه چې دوی د مالي سرمایه ګذاری متخصصین دي او خطر کموالی او مدیریت کولای شي نو دوی دغه پیسې په مالي سرمایه ګذارئ کې په کار اچوي په ځانګړي توګه د مالي بازارونو د حصې او قرضې په سندونو، انډیکسونو او اجناسو کې. د دوه اړخیزه فنډ سره یې فرق دادی چې دغه سهمونه په ورځ کې یو ځل اخیستل او خرڅول کېدای شي خو تبادلې سوداګریز فنډ بیا په ورځ کې هر څومره په مالي بازارونو کې اخیستل او خرڅول کېدلای شي.

پوښتنه: د فنډ انډیکس څه ته وایي؟

ځواب:  دا یو داسې انډیکس دی چې خپله پانګونه نظر د مالي مارکېټ بل انډیکس ته اعیاریږي چې دغه انډکس په ځانګړي ډول د اسهامو انډکس دی. او هغه وخت یې خرید او فروش کېږي چې دغه انډکس څخه د پیسو له وجهې یو څوک ووزي او یا هم څوک راشي.

پوښتنه:  د قرضې د سندونو ډولونه کوم دي صرف نومونه یې واخلئ؟

ځواب:  د ثابت نرخ د قرضې سند، د متحول نرخ د قرضې سند، بې سوده د قرضې سند، د انفلاسیون سره تړلی د قرضې سند، دایمي د قرضې سند، تابع د قرضې سند، وړونکې یا حامل د قرضې سند، د جنګ د قرضې سند، قسطی د قرضې سند او اقلیمي د قرضې سند.

پوښتنه: د حصې د سندونو ډولونه کوم دي نومونه یی واخلئ؟

ځواب:  په پراخه توګه د حصې سندونه په دوو برخو ویشل کېږي: چې یو یې عادي اسهام او بل یې امتیازي اسهام

د پانګې د سهم پربنسټ عادي اسهام په څلور ډوله ویشل کېږي.

۱: مجاز اسهام

۲: توزیع اسهام

۳: مشترک اسهام

۴:تادیه شوی اسهام

د تعریف پر بنسټ عادي اسهام په لاندې ډول طبقه بندي کېږي.

۱: د جایزې اسهام

۲: د حق اسهام

۳: د زحمت یا خولو اسهام

۴: د رایې د ورکولو او نه ورکولو اسهام

او د محصول پر بنسټ عادي اسهام لاندې ډولونه لري.

۱: د ګټې د تقسیم اسهام

۲: د ودي اسهام

۳: د ارزش اسهام

امتیازي اسهام لاندې ډولونه لري.

۱: تجمعي او غیر تجمعي امتیازي اسهام

۲: د ګډون او نه ګډون امتیازي اسهام

۳: د بدلون او نه بدلون وړ امتیازي اسهام

۴: نغدې ته د اوښتون او نه اوښتون امتیازي اسهام

پوښتنه: د انټرنټ په واسطه د مالي سرمایه ګذارۍ لپاره مهم اپلیکشنونه کوم دي نومونه یې واخلئ؟

ځواب: Investing APP او Money Control App دوه مهم اپلیکېشنونه دي چې کولای شو مالی سرمایه ګذاري په کې وکړو.

پای : که ژوند او صحت وو او لږ قلم او وخت یاري وکړه نو د هم مسلکو ملګروسره به یو ځای د فاینانس ډیر معیاري کتابونه ولیکو او ان شاء الله ترتاسو به یې در ورسوو.

په مینه او درنښت

پوهنیار همایون «همتا»

## ماخذونه:


AKSOY, E. E. (2017). *Finansal Yönetim :Teorik Yaklaşımlar,Çözümlü Örnekler ve Öneri Yaklaşımlar*.

Brigham, E. F., & Daves, P. R. (2018). *Intermediate financial management*: Cengage Learning.

Brigham, E. F., & Houston, J. F. (2021). *Fundamentals of financial management*: Cengage Learning.

BYJU'S. Different Types of Bonds - Basics of Bonds. Retrieved from https://byjus.com/govt-exams/types-of-bonds/

Groww. Types of Shares. Retrieved from https://groww.in/p/types-of-shares

Karan, M. B .(2005) .Yatırım analizi ve portföy yönetimi .

Kinkki, S. (2001). Dividend puzzle-a review of dividend theories. *Liiketaloudellinen aikakauskirja*, 58-97 .

Metin Kamil Ercan, Ü. B. (2018). *Değere Dayalı İşletme Finansı:Finansal Yönetim*

Miller, M. H., & Modigliani, F. (1 .(961Dividend policy, growth, and the valuation of shares. *the Journal of Business, 34*(4), 411-433 .

OKKA, O .(2010) .Finansal yönetim: teori ve çözümlü problemler .

Perold, A. F. (2004). The capital asset pricing model. *Journal of economic perspectives* .24-3 ,(3)18 ,

SAYILGAN, G. (2013). Soru ve Yanıtlarıyla İşletme Finansmanı .

Wikipedia. U.S. Dollar Index. Retrieved from https://en.wikipedia.org/wiki/U.S._Dollar_Index